AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهنمل دکتوراندوس رحمت خواکمن

۲۰۲۳/۰۸/۳۱

# افغانان او اوښان یې په آسترالیا کې

آیا پوهیږئ چې لومړني افغانان څه وخت او د څه لپاره استرالیا ته تللی و؟

افغانان لومړني مسلمانان و چې استرالیا ته د خپلو اوښانو سره د کار لپاره وربلل شوی و. کیدای شي، خبر به یاست چې شاو خوا یو سلو پنځوس کاله دمخه په استرالیا کې د افغاني اوښانو کاروانونو هلته، په شګلنو او سوځنده دښتو کې درانه بارونه وړل او د استرالیا له جنوبي ښندو او سمندري بندري ښارونو یې د استرالیا منځنیو سیمو او دښتو ته تګ او راتګ کاوه.

استرالیا داسې یو هیواد دی چې پر یوازی ځان پر یوه کوچني براعظم یا تر ټولو وړه قاره یا وچه کې پروت دی. له څلورو درى برخې یا په سلو کې پنځه اویا یې دښته یا بیدیا ده.

داسې ویل کیږي چې اصلي یا بومي اوسیدونکي ورته له جنوب ختیزي اسیا ، شاو خوا پنځوس زره کاله دمخه د کنګلو پلونو او لیارو له لیارې ورغلي و او په ټوله استرالیا کې خواره واره استوګن شوی و .

بیا وروسته د دی لرغوني وچې په موندلو کې هالنډی او انګلیسي ماڼوکانو یا بیړی چلوونکو ونده لرله.

ویلیم جانس لومړني هالنډي اروپایي کاشف، بیړۍ چلوونکي او ګرځندوی و چې، استرالیا ته په (۱۶۰۶) کې ورغلی و. له دی نیټي وروسته هلته نور هالنډیان هم ورغلی وو، خو دا وچه په بشپړه توګه د هالنډیانو مستعمره نه شوه. په (۱۷۷۰) کې انګریزي جمز کوک د استرالیا ختیزه سمندري غاړه یا څنده وموندە. دا برخه چې بیا وروسته د ( نیو سوت ولز) په نوم یادیده، انګریزانو ورځنې د زندان یا د بندیانو د ساتنې لپاره کار اخیست.

په (۱۸۴۹) کې په استرالیا کې سره زر وموندل شول او د همدې طلا یا سروزرو د لوټ او تالان لپاره د وګړو ورتګ او شمیر هلته زیات شو. استرالیا او هلته شاو خوا نور سمندري ټاپوګان او هیوادونه لکه نیو زیلاند او داسې نور زیاتره د انګریزي ښکیلاک په ولکه کې راغلل.

په ( ۱۸۳۸) کې لومړني افغانان او د هغوی اوښان هلته د کار لپاره لیږدول شوی دي.

که څه هم په استرالیا کې آسونه هم و، خو آسونو ته سخته وه چې د استرالیا په مرکزي سوزنده او شګلنو دښتو کې اوږده مزلونه وکړي. له همدی امله افغاني اوښانو به له جنوبي ښندو او ساحلي بندري ښارونو د استرالیا تر لیرى پرتو منځنیو وچو برخو اوږده مزلونه کول او هلته یې د سروزرو د کانونو کیندونکو او موندونکو ته اړتیاوی پوره کولی.

له (۱۸۶۰) کال وروسته شاو خوا شل زره افغاني اوښان او د هغوی ساتونکي او باروړونکي استرالیا ته د کار لپاره ورلیږدول شوي وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دی افغانانو او د هغوی اوښانو هلته سخت او درانه کارونه ترسره کړل او د اوسپني د پټلیو او سرکونو په جوړولو کې یې مرسته کوله.

د سروزرو د کانونو په موندلو او راسپړلو کې، چې هلته په دښتو او بیابانونو کې موندل شوی و، د همدې افغاني او ښانو او د هغو له خاوندانو هم زیات کار اخیستل شوی دی.

که څه هم بیا وروسته له نورو هیوادونو لکه مصر، هند، ایران او ترکیې هم، هلته اوښان وروړل شوی و، خو بیا به هم ځایي وګړو ټول د افغاني اوښانو په نوم یادول.

دی افغانانو او د هغوی اوښانو که څه هم د استرالیا په ودانی او د استرالیایي ټولني په پراختیا او پرمختګ کې ډیره مرسته وکړه، خو د خپل دین او کلتور له امله د اروپایانو له تعصب او تبعیض سره مخ و.

کله چې په (۱۹۰۱) کې استرالیا له انګریزانو خپلواکي واخیسته او یو فدرالي دولتي جوړښت او قانون یې رامنځ ته کړ، له هماغه مهاله (۱۹۵۸-۱۹۰۱) د سپیني استرالیا د سیاست په نوم د جوړوشویو قوانینو له امله، پر مهاجرتونو بندیزونه زیات شول، افغان کارکوونکو ته هم ستونزی زیاتي شوی او له افغانانو سره تعصب او تبعیض ورځ تر بلې زیاتیده.

له همدې امله بیا زیاتره افغانان بیرته خپل هیواد ته ستانه شول او یو شمیر نور یې د استرالیا په لیری پرتو سیمو کې پاته شول، نور کارونه او کسبونه یې غوره کړل او له بومي او ځنو اروپایي ښځو سره سره یې ودونه وکړل.

افغانان په استرالیا کې لومړني مسلمانان و چې هلته یې د اسلام له دین پیروي کوله، د اسلام دین یې خلکو ته وروپیژانده، خپل جوماتونه یې لرل، پر خپله عقیده ، دود او دستور کلک ولاړ و، خپل لباس او نور دودیز کره وړه او عادتونه یې هم ساتلي و. د ښارونو په څنډو کې یې خپل واړه ښارګوټي او مرکزونه لرل او له نورو وګړو جلا اوسیدل. استرالیا ته د هماغو لومړنیو کارګرو او سوداګرو ورغلو افغانانو، د هدیرو او جوماتونو نښې او اثار اوس هم په استرالیا کې شته. د دوی د ژوند ژواک، د افغاني اوښانو د کاروانونو او کړو وړو په هکله په تاریخي او جغرافیایي اثارو کې زیات شمیر لیکني، کیسي او انځورونه شته چې د استرالیا د تاریخ یو ویاړلي څپرکي جوړوي .

د یادولو ده چې له تیرو پنځوسو کلونو را دیخوا استرالیا ته یو ځل بیا یو شمیر افغان کډول د سیاسي پناه غوښتونکو په توګه ورغلي دي او زیاتره یې هلته

د دایمي اوسیدونکو په توګه ژوند کوي.

پوهنمل دکتوراندوس رحمت څواکمن

هالنډ/ ۳۰- ۸ ــ ۲۰۲۳


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ